سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۵/۰۴/۲۸

# د پښتونولۍ حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ

## دریمه برخه

### د پښتونولۍ د حقوقي نورمونو ټرمینالوژیک مهم منل شوي کانسپټونه

افغانیت: د افغاني دودیزه ټولنې د حقوقي نورمونو، ټولنیزو ارزښتونو او اصولو یوه منل شوي لرغوني ټولګه ګڼل کیږي. پښتونولي د پښتنو قبایلو یا د پښتون ولس ترمنځ یو حقوقي، سیاسي، ټولنیز، کلتوري او د قومي هویت یو نه ماتیدونکي نسلي تړون دی. پښتنه ټولنه کې د پښتونولۍ حقوقي نورمونه او ټولنیز ارزښتونه د څو پیړیو راهیسې ترننه د پښتون افغان ستر ولس د سیاسي، حقوقي، ټولنیز او کلتوری سولیز ګډ ژوندکړو وړه سره سمبالوي. د پښتونولۍ د حقوقي پوهې بنسټ په پرلپسې توګه د خپل عصر او زمان د حقوقي ژورې پوهې خاوندانو، د مخوارو تجربه لرونکو متنفذومشرانو، د باوجدانه، باضمیره او سپین خولې انسانانو په کولکټیفي پوهه باندې اینبودل شوي دی. دوی د پښتونولۍ ارونه، حقوقي نورمونه او ټولنیز ارزښتونه په یو شمیر کانسپټونو کې په نالیکل شوي توګه د یو ولسي ټولنیز تړون په څیر مشخص کړي دي. د پښتونولۍ په فلسفه او فکري نړۍ کې د ستر پښتون افغان ولس د شخصیت پیژندنې هر اړخیز انځور، د پښتونتوب تعریف، تفسیر او د یو پښتون د پیژندګلوي خورا مهم توکمي عنصرونه پراته دي. د لوی افغانستان د خپلواکۍ لپاره د پښتنو سیاسي حماسي مبارزو ډول، ډول ایډیالوجیک اړخونه، د افغان پښتون د ځانګړي دروند شخصیت ځانګړي صفات او پیژند په سړیتوب، ځواکمنتوب، ننګیالیتوب، توریالیتوب، میړنتوب، غښتلتوب، ژمنتوب ، زړورتوب او د پښتونتوب په دودیزه نارینتوب کې نغښتي دي. د دې ځانګړي خصویاتو په مقابل کې یو ننګیالی پښتون ته سلیم عقل، پوهې، فهم، زغم، ننواتي او ټولنیز ولسي مسوولیتونه ولاړ دي. د ژوند په دغسي یوه خورا حساسه سیاسي لار کې یو اصیل پښتون افغان خامخا منځلاریتوب، نرمښت او انحطاف پذیري ته مجبوریږي. پښتون ولس د پښتونولۍ په دودیزه قانون او کانسپټونو کې خپل ټولنیز عالي ایډیالونه، خپل نړیوال لید، خپل حقوقي نورمونه، خپل ټولنیز اصول، ارزښتونه، نرخونه، دودونه او معیارونه ټاکلي دي.

د همدې لاملونو پر بنسټ افغانیت پښتون افغان ولس ته د کولکټیفي مدني غوښتنو، تمو ارمانواو هیلو یو بنسټیز تاریخي رسالت ګرځیدلي. پښتونولي خپل حقوقي نورمونه، ملي ارزښتونه، خپل اصولي نرخونو او غوښتنې د خپلو غړو او په ټولنه کې د خپلو له وګړو څخه لري. دا هغه زاړه حقوقي نورمونه او ټولنیز ولسي ارزښتناکه ارزښتونه دي، چې درست پښتانه افغانان یې د بشریت تاریخ د لیکلو له پیل څخه ترننه د یو واحد خپلواک ولس په څیر د خپل ملي هویت، سیاسي، ټولنیزو او کلتوری چارو پیژندګلوي په برخه کې په یوه اوږده تاریخي مزي باندې سره یو ځای ټینګ ګنډلي دي.

پښتنو د پښتونولي حقوقي نورمونه او تولنیز ارزښتونه د لرغوني اریانا د مدنیتونو تاریخ په بهیر کې د خپل ځان لپاره ټاکلي او رامنځ ته کړي دي. په لومړۍ ځل پیر روښان خیرالبیان په پښتو ژبه ولیکلو او ورسره جوخت د اسلام د سپیڅلي دین فلسفه او د پښتونولۍ فلسفه یې په ګډه وځیړله. له همدې مهاله د پښتنو افغانانو د ملي تاریخ د فلسفي لیکلو پیر پیل شوي دی. د پښتو او پښتونولي حقوقي لرغوني نورمونه او ټولنیز ارزښتونه نه پردي، نه بهرني، نه دولتي او نه تاریخ تیرې زړې ورسته پاتي خبرې دي. پښتونولي نه کوم مستعبد ډیکټاټوري سرزوري سیستم دی، نه د ظلم زیاتي، نه د تبعیض، تعصب، تحقیر، نه د ښکنځلې او سپکاوې کولتور دی، نه د شر،نه د بدمرغۍ او نه د بدبیني لار ده. پښتونولي د افغاني ننګ او غیرت یو عالي لوړ احساس دی. پښتانه له دغي انساني پاک احساس څخه د خپل ژوند په ورځنیو چارو کې کار اخلي. نن ډیرې پښتانه مجبور شوي دي، د خپلو پلرونو او نیکونو په شان د نن ورځ په نړیوال کلي کې د خپلي فردي خپلواکۍ څخه، د خپل خپلواکه ستر ګډ کور لوی افغانستان څخه، د خپل ملي یووالي څخه، د خپل ملي احساس څخه، د خپل ملي هویت افغانیت، اسلامیت او د دیني مقدساتو، صفاتو او ارزښتنو څخه په پوره میړانه او زړورتیا سره ساتنه او دفاع وکړي. افغانان مجبور دي، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسلامیت د خپل سپیڅلي دین د مقرراتو، هدایاتو په رڼا کې او د افغانیت یا ریښتونولۍ احساس په لرلو سره د خپل ملي ولسي بیرته یووالي په لاره کې یو بل ته د ورورګلوۍ ریښتونې اعتباري لاسونه ورکړي او د یو روښانه هوسا سباوون په لور باید په ګډه روان شي.
پښتونولي د لرغونو زمانو څخه تراوسه په پښتنه ټولنه کې د اړتیا په صورت کې د خپل عصر او زمان مطابق تل په خپلو کانسپټونو کې په ولسواکه ټوګه د ټولنیز عدل، انصاف، سمون، رغون، بدلون راوستو په لاره کې د بحث، خبرې اترې، د نوی مدني انساني تعریف، تفسیر د رامنځ ته کیدو لپاره حجرو، جرګو، ډیرو، جوماتونو او ان ګردي مېزنو ته لار ې خلاصي پریښي دي. د ساري په ټوګه، نن په افغاني مدني ټولنه کې په کومو حالاتو کې او څنګه د پښتونولي د ننګ،غیرت، سیالي او د بدل له کانسپټونو څخه کار اخیستل کیدایشي. د پښتونولي قانون د پښتنو په ټولو سیمو کې یو شانه نه پلې کیږي، پښتونولي د پښتنو په یوه او بله سیمه کې لږ څه توپیر لیدل کیږي. د بیلګې په ډول که څه هم دغه بیلګه یو ناوړ دود یا رواج دي لکه دولور ناوړه دود، چې د پښتونولي له قانون سره نیغ په نیغه تړو نه لري. لویه پکتیا کې یوه ښځه د یوستر جرم یا قتل په بدل کې په بدو کې ورکول کیږي. کله چې یو څوک قتل وکړي، د بدل اخیستلو د مخنیوي لپاره د یوې جرګې لخوا یوه نجلي د مقتول په کورکې یو سړی ته په نکاح کیږي. په لوی ننګرهار کې په عیني جرم کې ښځه په بدو کې نه ورکول کیږي، بلکې د جرم په بدل کې نغدې پیسې ورکول کیږي. یولامل ښایي د خلکود پوهاوې ټیټه کچه او اقتصادي بد حالت وي. بله خبره کله چې د پښتونولۍ دودیزه قانون په چوکاټ کې یوه سمه انساني، افغاني او د اسلامي حقوقو پر بنسټ یوه حقوقي پریکړي وشي، دغه پریکړه یا فیصله د یوې قاعدوي پریکړې په ټوګه د یو دودیزه نرخ په څیر په ټولو پښتنو یا افغانانوکې په متوازنه ټوګه نه خپریږي او د یوې معیاري منلي پریکړې په څیر په نورو قضیو کې ترینه کار نه اخیستل کیږي. د پښتونولي قانون یا د پښتنو د جرګې دغسي پریکړې په لیکلي شوي بڼه په ارشیفونو کې هم نه ساتل کیږي.
داسي نوري مسلې، موضوعګانې د خبرو اترو، د سم تفسیر، تعبیر او عامه پوهوې لپاره د پښتنو مشرانو اومخو ړون اندو مخي ته پرتي دي .
پښتونولي له یوې خوا د خپلي حقوقي، جغرافیایي سختو شرایطو، د خونړیو تاریخي پیښو،ناورینونو، د بهرنیو زبرځواکو هیوادو یرغلونو، پیچلي ټولنیزه کړکیچونو، کورنۍ جګړه بیزو حالاتو او داسې نورو لاملونو له امله یو تصوفي، تصوري، خیالي، بي جسمه، بې حرکته، بې کلبده، بې چوکاټه قانون دی . د دې برسیره بیا هم پښتونولي د خپلو لرغوني منل شویو کانسپټونو سره د پښتون ولس یو وچ کلک نالیکل شوي بنسټیز قانون ګرځیدلي دی. په ټولیزه ټوګه پښتونولي د خپل ټولنیز، حقوقي، سیاسي، فلسفي پرنسپونو پربنسټ د افغانانو خپله نګه پښتني، ملي، سیاسي ټولنیزه فلسفي ایډیالوجۍ ده. د پښتونولي دودیزه قانون او حقوقي نورمونو، ټولنیزو ارزښتنو د علمیتوب په اړه د افغانستان په پوهنتونونو، د علومو اکادیمیو، پښتو ټولنه، د پښتنو مخورو پوهانو، حقوقي شخصیتونو، ړون اندو، حقوقپوهانو، ټولنپوهانو او اکاډیمیکو پوهنتوني مرکزونو کې ډیرې لږې علمي اکاډیمکې څیړنېزه لیکنې، سیمینارونه تر سره شوي دي. په خواښینې سره د پښتونولۍ د دودنو نرخونو په اړه په افغاني ټولنه او ډلیزو رسنیو کې د خلکو د عامه پوهاوې، د اصلاح، سمون، ګوتنیوونکي اند جوړونې په اړه خبرې اترې، بحثونو ته هیڅ ځای او وخت نشته.
جګړه تل یو استسنایي بیړنۍ ځانګړی حالت دی. افغانان پښتانه نږدې څلویښت کاله په یو بیړني استسنایي جګړه ییز بد حالت کې ژوند کوي. د اسلام سپیڅلي مکمل دین د پښتونولي قانون ټولې حقوقي نیمګړتیاوې او کمښتونه ور پوره کړي دي. افغانان پښتانه او پښتونولي ویاړي، چې په دوی کې د اسلام د سپیڅلي دین روح، سا او د سپیڅلي ارزښتونو صفات شته دي. د پښتونولۍ مهم پرنسیبونه سیالي او میلمستیا په پښتنه ټولنه کې د انسانانو تر منځ د مشروع سیالۍ له لارې ټولنیز، اقتصادي پرمختګ او د ژوندي پاتیکیدو په ستراتیجیکې کې اغیزمنه همکاري او همغږګې رامنځ ته کوي. پښتونولي کې د افغاني ټولنې د ځانګړو شخړو،ستونزو، افغاني لانجو، حقوقي کړکیچونو او دعووې د هوارې مهم عنصرونه شته دي. پښتونولي کې د سولې او پخلاینې، د ورورولۍ او عزیزګلوۍ ښکلي انساني پرنسیبونه او ارزښتونه شته دي. پښتونولي نه یواځې د لرغونو زمانو څخه د یوې خپلواکۍ مدني ټولنې پرنسیبونه په خپل ټولنیز سیستم کې لري، بلکې پښتونولي په افغانانو کې د خپل ګران هیواد خپلواکۍ، د ملي نوامیسو او ملي ګټو څخه د فاع اراده او په دوی کې د هیوادنۍ مینې د ځواکمنتوب یو ګډ ملي احساس را ویښوي.
پښتونولي د خپل ځواکمن ځواک درلودلو سره د پښتني افغاني کولتور، افغاني اسلامي هویت او د پښتني ټولنې د ټولنیزو اصولو یوه لرغوني ایډیالوجۍ ګرځیدلي ده. لرغوني پښتونولي لاتر اوسه د پښتني ټولنې په ټولنیز جوړښت، ملي کولتور راوېښولو او ټولنیز سیاسي چاروکې یوه ځواکمنه پخه کاري ښکارنده ده. پښتونولي د پښتنو په ټولنه کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ډول، ډول حقوقي، دولتي، سياسي، اقتصادي،کلتوری او تاريخي چارو کې پرفيکټ ريفورمونه او بدلونونه رامنځ ته کړي دي. پښتونولي د خپل تاريخ په بهير کې ورو ورو د يو شمير حساسو تاريخي مرحلو څخه په تيرويدو سره د پښتنو يو بنسټيز قانون ته وده کړي.
پښتانه پوهيږي، چې دوی ته د پښتونولی د جرګو مرکو، د خبرو اترو او د زغم ستر کولتور ي سيسټم له پلرو او نيکو څخه په ميراث ورپاتي دی. دوی اوس مجبور دي، د خپلو پلرونو او نيکونو د ميراثي ارزښتنو څخه په ميرانه، ننګه، پالنه او ساتنه وکړي. پښتانه مجبور دي، د خپل د سر د بقا، ارتقا لپاره دغه ټولنيز مهم اصول او ارزښتونه په خپل ورځني سياسي، ټولنيز ژوند کې نوره جوت او ښکاره کړي او د خپل افغان ملي اسلامي دولتونو په جوړښت کې، د کورنی او بهرني سياست په افغانيزه کولو کې ترينه پوره اندازه کار واخيستل شي. تر څو ايرانيانو، پنجابيانو، نور مغرزو بهرني او کورنۍ غليمانو ته پته ولګيږي، چې دا افغانستان دي او لوی افغانستان د ټولو افغانانو پښتنو د ملي ارزښتنو او دودونو ګډ سوله ييز کور دی.
د نړی په تاريخ کې دا ثابته خبره ده، چې پښتانه افغانان په خپل دين، مذهب او د خپل هيواد خپلواکی باندی تل پښتني ننګ، افغاني غيرت کړي او کوي. د مقدوني ستر سکندر او د فارس د داريوش له امپراتوری څخه را نيولي، بيا کله چې د انګريزانو په امپراتوری کې لمر نه ډوبيده او همداسي پخواني شوروي اتحاد شپاړلس جمهوريتونه يا اسلامي هيوادونه لاندي کړي وو. نړی کې داسي اسلامي يا غير اسلامي هيواد او ولس نشته، چې د انګريز انو د ښکيلاک او د شوروي کمونيستي نړيوال زبرځواکونو په وړاندې لکه د افغان باغيرته، با توره،با شهامت ولس په ځير وسله وال مقاومت کړي وي او د خپل هيواد د خپلواکی جهاد يې په برياليي توګه ترسره کړي وي. هيڅ څوک د افغانستان د خپلواکی ګټلو په سترو حماسی تاريخي معرکو کې د اسلام سپيڅلي دين د ايمان جزبات او د پښتونولي د ننګ، غيرت او د پښتني د توري ګډ ځواک او د ارزښتونو رول له پامه نشي غورځولي.
د پښتونولي قبايلي حقوقي نورمونه، حقوقي تصورات او ملي ازادي بنيونکي ارزښتونه اصلاً پر دې بنسټ رامنځته شوي دي، چې د هر پښتون سړی خپلواکه انفرادي شتون او مدني ازاد ژوند په کې تضمين شي. د هر پښتون افغان د درني کورنی سطر، عزت، پت، پرده او بشري حقونه غوندي وساتل شي. د هری پښتني قبيلي قبايلي جوړښت څرګند او د يو واحد ملت په وجود کې سره را غوندي وساتل شي. هره پښتنه قبيله بايد د خپلي سيمي واک او اختيار د يو واحد ستر افغان ملت د رامنځ ته کيدو لپاره په خپل لاس کي ولري. نن هم پښتانه پوهيږي، چې دوی د خپل توکمي او قبايلي ځانګړي جوړښت له امله تل د پښتون ولس وجود، د پښتنو پاکه خاوره، د پښتنو افغاني ملي کلتوری، ټولنيز ارزښتونه د ناځوانه سپين سترګي د ښمن د بريدونو او ګواښونو لاندی راغلي دي. د پښتنو افغانانو کورنی او بهرنی دښمنان هڅه کوي، چې د پښتنو افغانانو د همدې توکمي او قبيلوي جوړښت، بې اتفاقي، ځانځاني، د پښتنو ګډوډيو، ناپوهي او د پښتنو د مشرانو مرکزيت نشتون او يا عملاً پښتانه مشران په يوه واحد مرکزيت د نه راټوليدو له امله او د يو پوهه متفکر پښتون افغان د تشي له امله، د پښتنو ملي مشر تابه جرګې د نشتون له امله، ځيني بې ننګه، نا پوهه، بې خبره، بې غيرته، بې عزته او د پيسو وږي پښتانه د ښمن لخوا په څو روپيو په کرايه اخيستل کيږي. دښمن دغه ناپوهه خلک د پښتون در په دره ولس په وړاندې د خپلو شومو موخو لپاره استعماليوي او بالاخره دښمن د پښتون افغان ولس د هري کمزوری څخه ګټه اخلي او خپل بې شرمه، ناځوانه، بې رحمه بريدونه تر سره کوي.

## د پښتونولی د ننګ،غيرت، پت، پرده، سطر، شرم، حيا او اخلاقو لرغوني ټولنه

لوی افغانستان د پښتونولی د حقوقي نورمونو، ټولنيزو ارزښتنو او عرفي قوانينو يوه ستره نه ماتيدونکي دوديزه لرغوني کلا يا مانۍ ده. افغاني ټولنه کې افغانانو ته پښتني حقوقي نورمونه، ټولنيز ارزښتونه، اصول، دود او دستور ځکه منل شوي دي، چې دا ارزښتونه د ولس په فکرونو، زهنونو او زړونو کې خپلي ژوری ريښي لري. افغاني دوديزه ټولنه کې د افغانيت ناليکل شوي عرفي قانون د ټولنيزو اخلاقي قوانينوڅخه شميرل کيږي، چې د لرغونو زمانو څخه د ولس په ضمير، وجدان او زهنونوکي خپلي ژوري ريښي ځغلولي دي.
د پښتونولی حقوقي نورمونه د الزامي قوانينونو په ځير دي، چې ولسي وګړو ته د خير ښيګني او د ټولګټي عامه چارو په برخه کې لارښووني کوي او له دغو حقوقي نورمونو څخه د شخړو، دعووي په حلو فصلولو کې د مرکچانو له خوا په جرګو او مرکو کې کار اخيستل کيږي. پښتنه ټولنه کې که څوک د پښتونولی قانون نه مني او يا مخالفت ورسره کوي، دی د پښتني له ټولني څخه شړل کيږي، يا دی په پښتنه ټولنه کې خامخا د ټولنې هر غړي ته د يو بې اصوله سړی په ځير په سپکه سترګه کتل کيږي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د ټولنې ساتنه، په ټولنه کې د خير ښېګڼې او د ټولنيز پيوستون چارې د يوې ټولنې د ملا تير جوړوي. له همدې امله پښتني ټولنه کې نارينوو ته په ماشومتوب کې د ننګياليتوب او توريالیتوب دوه ګوني ايډيالونه او ارزښتونه ورزده کول کيږي. هر اصيل پښتون ته په کور دننه او په ټولنه کې د همدې ارزښتمندو ارزښتنو په چوکاټ کې ښوونه او روزنه ورکول کيږي. تر څو په ټولنه کې هر نارينه سړی يو ريښتني ننګيالی او توريالی پښتون افغان واوسي. يو پښتون په پښتنه ټولنه کې هغه مهال يو ننګيالی سړی پيژندل کيږي، کله چې دی د پښتي يا د افغانيت په عالي ارزښتنو او اصولو کې روزل شوي وي. د پښتنو په پښتني مفکوره کې يو ننګيالی سړی يوسپيڅلي، سوچه، شريف، با عزته، ممتاز، دروند صفته، يو ريښتني هودمن او اصولو ته ژمن انسان دی. يو ننګيالی سړی تل د کمزوري، بې وسه انسانانو مرستي ته و دانګې، همداسي دی د ښځو او ماشومانو څخه په ميړانه ساتنه او دفاع کوي. يوننګيالی د خپل کلي د بې وسو، نېستمنو، بې وزلو، فقيرانو، نابيانو، ډمانو، هنرمندانو او مساپرو څخه ساتنه او په ميړانه د سر په بيه دفاع کوي. ځکه دغه ډله خلک په ټولنه کې بي وسلې، بې دفاع او زر زيانمن کيدونکې خلک پيژندل شوي دي.

يو ننګيالی سړی تل ځان وجداناً د ټولنې يو خدايي خدمتګار بولي، دی د خپل سر په بيه په ټولنه کې د الله (ج) د رضا لپاره د خير ښېګڼې ټولګټي چارې تر سره کوي. يو ننګيالی اصيل پښتون خپل ځان ته زيان مني، خوهيڅ کله خپل قام ته زيان نه وراړوي او د خپلي ټولنې ملا هم نه ماتوي، دی په ټولنه کې په خپله خوښه له ځانه zivilcourage يا ولسي جرآت ښيي. ولسي جرآت د انساني ژوند يو مهم اصل دی، چې په يوه خپلواکه ټولنه کې سړی پرته له ويرې او زورزياتي څخه خپل نورمال ژوند وکړي. يو زړور تکړه توريالی غيرتمن جنترمين اصيل پښتون پوهيږي، دی څنګه په خپله وسله د خپلي کور نۍ غونديتوب، د خپل عزت، د خپلو خپلوانو، د خپل کلي، د خپل پټی، د خپلي سيمې، د خپل ولس، د خپل اسلامي هيواد د کلتوری ارزښتنو څخه ساتنه او دفاع وکړي. دی په دې هم پوهيږي، چې دی خپله توره څنګه د بې انصافي، بې عدالتي، د ظالم او تيرې کوونکې په وړاندې بريالي استعمال کړي. نن د پښتنو په سيمو کې د اوږدې جګړو له امله د کلاشينکوف او ډالرو کولتور خپورشوي دی. د دغې ناوړه او پښتني ضد کولتور له وجهي ورور خپل ورور بې ګناه وژني، جوماتونه، جنازې او ښوونځې په بمونه کې الوزي. د کلاشينکوف او ډالرو کولتور د رامنځ ته کيدو سره افغاني ټولنه کې مادي او معنوي ارزښتونه په له منځه تللوشوي دي. د دې ناوړه دود او ناوړه کولتور او د دغې خطرناکه ويروس د لمنځه وړلو يواځني لار پوهه ده او، د پښتو او پښتونولي اصيل اصول بيا ژوندي کول دي.

پښتانه ميلمه پال خلک دي. پښتني ټولنه کې نه يواځې د ميلمه پالنې سپيڅلي حق يا رښت شتون لري، بلکې د يو محتاج او د پناوړونکې انسان د بنسټيزو حقونو د ساتني حق هم شته دی. کله چې څوک د کلي يو خان يا مخور مشر ته پناه وروړي، د کلي خان مجبور دی، د خپل پښتني ننګ، غيرت، نام او نښان د ساتني لپاره د پناور وړونکې سړی د ژوند څخه د خپلي ويني په بيه ساتنه وکړي. د اړتيا په صورت کې د ميلمه پال لخوا د پناوروړنکي سړی څخه د امن تر سيمې پورې بدرګه هم کيږي.

پښتني ټولنه کې د حساسي ملي مرکزي مهمو ټولنيزې چارې او د انفرادي ټولنيز ملي مسووليتونو په ترسرکولو کې څوک چا ته پيسي يا اجوره نه ورکوي، بلکې د پښتنو د مشرانو له لوري ده ته د قدر، عزت، درنښت او د سړيتوب غيرتمن درانه القاب ورکول کيږي، خلک ده ته په درنه سترګه ګوري، ده ته د عزت او ګرانښت معنوي اجوره ورکول کيږي او ده ته د قا م د مشر په توګه پټکې ور په سر کيږي. دي تل په ميړانتوب او ښه نومونو باندې ستايل او نازول کيږي. په بله وينا، ده ته په ژوند کې دنيوي او اخروي معنوي حق الزحمه ورکول کيږي. پښتانه د چا ښه او بد نه هيروي. افغانانو خپل امن، نظم او سوليز ګډ ژوند ته په دوه مهمو پرنسپونو کې د ننګ او شرم په کانسپټونو کې لاره موندلي شي. پښتنه ټولنه کې که څوک د خپلو مسووليتونو او ټولنيزو چارو په تر سره کولو کې پاتي راشي، دی د سر ټيټوالي، شرم، بې عزتي او بې ننګې سره مخامخ کيږې. دی د ټولنې څخه د ويستل کيدو په سزا هم محکوم کيږي. پښتنو کې د پښتونولي مرکزي مهمي ټولنيزې چارې په دوديزه توګه د پښتونولۍ د حقوقي نورمونو او مذهبې اسلامي عقايدو په چوکاټ کې د اسلامي قانون او مورال پر بنسټ ټاکل او فيصله کيږي. له دې لارې د پښتنو مشرانو او په ټولنه کې د اغيزو خاوندانو پريکړېو ته نوره حقوقي، عدالتي، مذهبي،اعتبار، ثبات او حيثيت ور ښنل کيږي.

پښتون ولس او پښتنه ټولنه کې عزت ، درنښت او مشرتوب هغې چا ته ورکول کيږي، کله چې يو څوک د پښتونولي ارزښتونه او نورمونه عملاً په خپل ژوند کې عملي وښيي او په افغاني ټولنه کې د ولس په چوپړ کې د خير ښيګڼې او ټولګټي مهم مثبت رول ولوبوي. کوم سړی چې په ټولنه کې د خپلو ټولنيزو چارو په ترسره کولو کې په ښکاره

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

توګه پاتې یا ناکامه شي، دی د شرم سره مخامخ کيږي. د ټولني څخه ايستل کيږي او حتا په ځينو مواردو کې دی په مرګ هم محکوم کيږي.
د پښتني ټولني د ننګ، غيرت، وياړ او د شرم ارزښتونه د نارينه او ښځينه وګړو په روح او زهن کې يو شانته او په برابره توګه چلښت لري. د ټولني په ټولنيزو چارو کې د ننګ او شرم کلتوری ارزښتونه ښځينه او نارينه جنسيت ته په کتو سره د دوی ځانګړو چارو رول او په ټولنه کې د دوی د مسووليت منلو او ونډې سره تړاو لري. پښتنه ټولنه کې نه يواځې په ملي او نړيواله کچه پيژندل شوي ننګيالي اتلي ښځې لکه د ميوند او سوات ملالي شتون لري، بلکې ډيري بې نامه او بې نښان ننګيالي، توريالي، غيرتمنې اتلي پښتني ښځې شتون لري.
کله چې پښتنه ټولنه يا يوه پښتنه کورنی کې د نارينه کمښت احساس يا رامنځ ته شي، يا نارينه په جګړو يا کومه بله طبيعي پيښه کې لمنځه لاړ شي. پښتنه ټولنه کې داسې هم پيښ شوي دي او دا شوني ده ، چې پښتني ښځې په ډګر او جرآت سره د نارينوو چارې په خپله غاړه واخلي. پښتني ښځې په پښتنه نارينه سالاره ټولنه کې د نارينوو د ننګ او غيرت چارې تر سره کوي. په دې مانا، پښتنه ښځه د نارينه جامې اغوندي، پښتنه ښځه د نارينه پټکي او يا هم خپل ټکري په سر کوي. ښځې د وسلې سره ګرځي، ښځه وسله استعمالوي شي. که څه هم پښتنه ټولنه يوه نارينه پاله ټولنه ده، يوه پښتنه ښځه کولی شي، چې د نارينه په شان ژوند وکړي. په همدغه نارينه سالاره پښتنه ټولنه کې ښځې ته د نارينه په څير درنښت کيږي.کله چې پښتنه ټولنه کې پښتني ښځې په پښتني سطر او اسلامي حجاب کې د نارينه په رول کې په درناوي، په درنښت او عزت کې ستايل او نازه ول کيږي. ښځې د دې اشرافي عالي ارزښتونو څخه ، کوم چې د ننګياليو نارينوو د شان او شوکت لپاره اعتبار او چلښت لري، خوند اخلي. دا پښتني ارزښتونه د دې لپاره ښځينه جنسيت نه ورکول کيږي،چې ښځه ده، بلکې د يو انسان شخصيت يا ښځينه شخصيت ته ورکول کيږي، کوم شخصيت ته چې د ټولني د ساتني لپاره، ديوی ستري ګواښمني ملي ټولګټي دندې تر سره کولو او د خپل ولس د چوپړ او ساتني او په ټولنه کې د يو مثبت رول لوبولو لپاره يې ملا تړلي ده، ورکول کيږي.
پښتني ټولنه کې مرکزي مهمي ټولنيزي چارې د دوديزه حقوقي نورمونو او مذهبي عقيدوي چوکاټ کې تر سره کيږي. په ټولنه کې د همدې دوو حقوقي لارو له لارې مکافات او مجازات پلي کيږي.
پښتنو کې امن، نظم او ګډ سوليز ژوند پر دوو عنصري پرنسيبو يا د ننګ او شرم پربنسټ باندې تنظيم شوي دی.
عزت او درنښت د هغې چا په نصيب او په برخه کيږي، چې دی خپل ټولنيز مسووليت ادا کړي. شرم هغې چا ته متوجې کيږي، چې دی په ښکاره ډول د يوانفرادي شخص په څير ناکامه شي او د خپل ولس ملا ماته کړي.
پښتانه پوهيږي، چې دوی په يوه نړۍ کې چې له دښمني او تربګني څخه ډکه ده، ژوند کوي. پښتون مجبور دی، د خپل فردي شتون لپاره، د خپل خود مختاره ژوند لپاره، د خپل ولس د بقا او ارتقا د دعوه لپاره په ګډه د دښمن د ناروا بريدونو په وړاندې ودريږي. تر څو دوی خپل ځانونه دښمن د ګواښونوڅخه وساتني، ورسره د خپلي قبيلي د هر يو غړي خپلواکي يا خود اراديت جوت وساتلي شي. د اړتيا په صورت کې دوی مجبور دي، چې د دښمن څخه په متناسبه ډول خپل بدل واخلي. که يو پښتون داسې ونه کړي، دی په خپله قبيلوي ډله او ټبر کې خپل عزت ،حيثيت، خپلواکی او ټولنيز پرستيژ له لاسه ورکوي.
پښتانه پوهيدلي او په دې فکر کې دي، چې ټوله نړۍ د دوی سره په دښمني، بدې او تربګني کې بوخت ده. د نړۍ څخه د يو داسې تربګنيزه،کړکيچن او له دښمنيو څخه ډک انځور لرلو په چوکاټ کې، په کوم کې چې يو قبايلي پښتون افغان نارينه غړي ژوند او حرکت کوي، پښتون دې ته مجبور يږي، مخکې له دې چې دی د يو غيرتمن، هوډمن او يو ميړنی سړی ښه نوم وګټي. دی بايد په ټولنه کې د يوعزتمن، غيرتمن او ژمن سړی په توګه خپله خپلواکې په پوره ډول په خپل واک او اختيار کې ولري. تر څو دی ځان ته د ميړنتوب، سربښندني يا سړيتوب په ځانګړو او صافو او صفاتو کې لکه د پښتني ننګ، افغاني غيرت، توري او توريالیتوب ښه نومونه ځانته انعام او ډالی کړي. يو ريښتني اصيل پښتون افغان په دې باور او مفکور کې دی، چې دی په نړی يواځې د يو داسې ښه نوم، عالي انساني ارزښتونو د ګټلو لپاره ژوند کوي.

## د پښتونولۍ په رسميت نه پيژندل شوي حقوقي نورمونه

حقوقي نورمونه د حق او قانون مهمې برخې جوړوي يا د حقوقي سيستم نه بيليدونکي مهم توکي دي. نورم يا norme يو لاتيني توری دی او د يوې زاويې واحد مانا ورکوي. حقوقي نورم هغې قاعده ته ويل کيږي، چې حق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يا قانون په کې شتون ولري. په دې مانا، حقوقي نورم بايد يو مشخص عمل يا کړنې څخه ممانعت وکړي او يوې کړنې يا عمل ته اجازه ورکړي. په عمومي ډول حقوقي نورمونه او ټولنيزو نورمونه د يو بل سره توپير لري.
حقوق د حق يا ريښت جمع ته ويل کيږي. حقوق د قوانينو مجموعه او يو ټولنيز نظام دی، چې د انسانانو له طبيعت څخه الهام اخلي او هغه څه تثبيتوي، چې انصاف او عدالت ورته ويل کيږي. په لنډه توګه حقوق د يو شمير قوايدو او مقرراتو مجموعه ده، چې د وضع شويو مقرراتو له لارې په ټولنه کی د انسانانو ترمنځ د يو بل سره اړيکی لري او د دوی اړيکي د نورو عالي اورګانو سره تنظيموي. دغه قوايد او مقررات د قانون يا حقوقي نورمونوله لارې ټاکل کيږي، ښودل کيږي او پلي کيږي. په همدی ترتيب سره په ولس کې يا د وګړو ترمنځ دودونه، نرخونه او رواجونه، د يوې اوږدې مودې په بهيرکې ورو ورو دود کيږي. دا دودونه، نرخونه او رواجونه د دوديزه قانون يا عرفي حقوق په نامه پيژندل کيږي او په ټولنه کې له همدې نرخونواو نورمونو څخه استفاده کيږي. په بله وينا، حقوق د يو شمير قواعدو او مقرراتو ټولګې ته ويل کيږي، چې د تاريخ په يوه معينه زمانه کې پر خلکو باندې مسلط او حاکم شوي وي او خلک مجبور وي، چې دغه وضع شوي قواعد او مقررات راعايت کړي. د نړۍ د نن ورځ په اصولو ولاړه حقوقپوهنه،حقوقي سيستم، د حق يا د حقونو مجموعه، پايله او منځ زړي په ټولنه کې د چليدونکې حقوقي نورمونو څخه که هغه ليکل شوي او يا ناليکل شوي نومونه دي، رامنځ ته شوي. حقوقي نورمونه، معيارنونه او قاعدې د يو انسان دکړه وړه او يا د يوې انساني ټولنې لپاره رامنځ ته کيږي. حقوقي نورمونه د دې لپاره رامنځ ته کيږي، چې انساني مدني ګډ ژوند په انصاف او عدالت کې سمبال شي. حقوقي نورمونه ټولنيز کړکيچونه حلو فصلوي او په ځينو اضطراري حالاتو کې د زور څخه هم په کې کار اخيستل کيږي. لکه د پښتونولي د جرګو پريکړې او فيصلې د اربکيانو يا قومي لښکر لخوا هم پرخلکو باندې د زور د استعمال له لارې هم تطبيق شوي دي.
پښتنه ټولنه کې د پښتونولۍ حقوقي نورمونه او ټولنيز اصول هم د همدې نړيوالو منل شويو حقوقي پرنسيبونو پر بنسټ رامنځ ته شوي دي.
حقوقي نورمونه حقوقي معيارونه دي او په ټولنه کې د وګړو د کړو وړو لپاره يو قاعدوي کرکټر لري. د دولت لخوا ګرانټي شوي، منل شوي حقوقي کړه وړه او د حقوقي نورمونو ټولګه او پايلي ته رسمي حق يا په رسميت پيژندل شوي حقوق ويل کيږي.
د حق مفهوم هغه عمومي نورمونه او قاعدې احتوا کوي، کوم چې د دولت لخوا ګرانټي شوي وي، تر څو د انساني مدني ژوند او د انساني ژوند د لانجواو شخړو هواري د قضايي پريکړو له لارې په دولتي چوکاټ کې تر سره شي.
په عمومي ډول نورم يو الزامي معيار يا (بايد معيار ) ته ويل کيږي. حقوقي نورمي معيارونه خپل مخاطب لري او د ليک اخيستوونکې پته يې مالومه وي.
د پښتنو د پښتونولي قانون او حقوقي نورمونو د جرم د پيښيدو څخه مخکې ټاکلي، چې څوک په کومو حالاتو کې برآت اخلي او يا څوک په کومه سزا محکوم او يا نه محکميږي، يا يو څوک ځنګه د ګواښ په حالت کې ساتل کيږي او يا پناه ورکول کيږي. يو چا ته څنګه د يو ناوړه عمل په بدل کې سزا ورکول کيږي. يو څوک څنګه په قتل محکوم کيږي. يو څوک څنګه نغدي جريمه ته اړ ايستل کيږي، يا يو څوک څنګه خپله پښيمانې، ګرموالي، پړوالي مني او يو څوک په څه ډول ننواتي کولي شي. پښتني ټولنه کې چې هر څوک يو حقوقي نورم يا نرخ مات کړي، پرته له دې چې د جرمي عمل انګيزه وڅيړل شي، هغه يو تيرې کړي دی او د پښتونولۍ يو نرخ يا حقوقي نورم يې مات کړي دی.

د حق منبع ، سرچينه او بنسټ تل يوه حقوقي ټولنه وي، په کومه کې چې خلک ژوند کوي.
که څه هم تر اوسه د افغانستان قضايي او عدلي سيسټم د پښتونولي حقوقي نورمونه په رسميت نه دي پيژندلي. بيا هم د پښتونولي د ناليکل شوی او غير رسمي قوانينو يوه برخه د افغانستان په رسمې قوانينو او دولتي جوړښت کې ليدل کيږي. د افغانستان په تقنيني قوانينو کې دود، دستور يا عرف اعتبار لري او ځای ورکړل شوي دی. د افغانستان په مدني قوانينو کې راغلي، کله چې حکم په قانوانينو کې، د اسلامي شريعت احکام او د حنفي فقي په اساساتو کې شتون ونه لري. محکمه کولي شي د عمومي عرف ، دود او دستور مطابق حکم صادر کړي. شرط دا دی، چې عرف د قانون د احکامو، اساساتو او عدالت سره په ټکر کې نه وي.
د افغانستان د معاصر قوانينو يا د عدلي او قضايي نظام جوړونې سيسټم د ۱۹ پيړۍ په نيماي کې د امير شيرعلي خان د دويمي دورې څخه را پيل شوي دی. د افغانستان حقوقي سيسټم يو پلوراليستي سيسټم دی. که موږ د افغانستان د قوانينو مجموعه په يو هرم يا مثلث کې د سلسلي مراتب په بڼه وليکو، لومړۍ د افغانستان اساسي قانون راځي، دوهم د قران قانون يا داسلامي شريعت قانون، دريم د افغانستان د جزأ قانون، همداسي د افغانستان مدني قوانين، د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

افغانستان د جزايي اجراعاتو قانون، د پوليسو، د ترافيکو د جادې قانون، نړيوال منلي شوي قوانين او نور. د ټولو قوانينو لاندې او د افغانستان د قوانينو په بنسټ کې د افغاني ټولني حقوقي نورمونه او حقوقي تعاملاتي دوديزه قانون راځي. دغه دوديزه قانون او حقوقي نورمونه بايد د افغانستان په ټولو قوانينو کې منعکس شي او ځرګند واوسي. تر څو هر ځوان افغان او هرې پيغلي افغانه ښځې ته دا احساس پيدا شي، چې دغه افغاني قانون زما لپاره دی، دغه قانون زما د ټولنيز ژوند د کړو وړو چوکاټ تعيننوي او بالاخره يو افغان بايد باوري شي، چې دا قانون زما په ګټه دی. افغانستان کې د قانون حاکميت نشتون ډير لاملونه لري، يو لامل دا دی، خلک قانون ته ځکه درناوې نه کوي، چې دوی خپل ملي منل شوي ارزښتونه او دودونه په قانون کې نه ويني. پښتونولي د افغانستان يو نا رسمي حقوقي سيستم دی. دغه نا رسمي بنسټونه يا دسيمه ييزو جرګو سيستم د اوسني رسمي قانوني سيستم څخه مخکي شتون درلود. کله چې د پښتنو يا د پښتنو په سيمه کې لانجي، شخړې يا اختلافونه رامنځ ته کيږي. دعوه يا قضيه د دواړو دعوا ګيرو غاړو له لوري په خوښه محلي جرګې ته وړاندې کيږي.

همدا اوس د افغانستان رسمي حقوقي قضايي سيستم د ځولسيزو د جګړو له امله فلج او د لمنځه تللو په حال کې دی. کليوالي خلک د خپلو لانجو د حلو فصل په برخه کې نا رسمي بنسټونو ته په ځانګړې ډول محلي جرګو ته مخه کوي. د افغانستان په کليوالي سيمو کې نږدې او يا سلنه شخړې او دعووې د پښتونولی قانون او سيستم له مخې هواري کيږي.

افغانستان کې نن د نافذه قوانينو په ځای د پښتونولي حقوقي نورمونه او عرفي قوانينو عملي کيږي.

جرګه يا مرکه د قبيلي د مشرانو، د مخورو سپين ګيرو او د ټولني د اغيزناکي ځيرو غونډه ده، چې شخړې، اختلافونو ته افغاني حل مومي او يا د يوې مهمي موضوع په هکله د پريکړې نيوني لپاره ديوې لوی ډايرې په بڼه سره جرګه ګيږي. دا نا رسمي بنسټونه د شخړو په حل کې د افغانستان مدني او يا جزايي قوانين نه پلي کوي، بلکي اسلامي قوانين، قبيلوې دوديزه قانون، د لويانو، مخورومشرانو، سپين ګيرو جمعی عقل، تجربو او د انصافي پوهې ترکيب ته يوه عملي بڼه ورکوي.

غير رسمي قوانين د ساده يا غير اصولي او يا بې مسلک، مفاهيمو سره بايد ګډ نه کړل شي. د پښتونولی سيمه ييزه عدلي او قضايي سيستم پر يو ناليکول شوي عرفي مدني قوانينو او پښتني حقوقي نورمونو باندې ډېه لګولي ده. د بيلګي په توګه د پښتونولي قانون پر بنسټ په معمولي سيميزو جرګو او مرکو کې پريکړې د اخلاقو، انصاف، عدالت او د ريښتينوالي څخه په ښه درک کې ترسره کيږي.

پښتنه ټولنه په دودونو نرخو ولاړه ټولنه ده. لويه پکتيا د پښتونولي د جرګو او مرکو ستر ټاټوبی دی.

په ۱۹۷۵ کال کې الماني حقوقپوه ښاغلي ويلي ستيول Willi Steul د خوست په ولايت کې د پښتونولي د جرګو او مرکو په ستر تاريخي ټاټوبی کې د پښتنو او پښتونولي حقوقي نورمونو څخه له نژدې ليدنه او کتنه کړې. ښاغلي ويليستيول د پښتنو په حقوقي دعووې او شخړو کې په خپله ناست او برخه اخيستلي ده. الماني څيړونکی د پښتونولي حقوقي نورمونو قضيې د نړيوالو حقوقي نورمونو او معيارونو په تله کې تللي، څيړلي، تجزيه او تحليل کړي دي، د پښتني د حقوقي نورمونو د څيړونو او کتنو څخه ورسته دی دې پايلي ته رسيږي، چې د پښتونولي حقوقي نورمونه د نړيوالو حقوقي نورمونو سره برابر نورمونه دي او په نړيواله کچه پيژندل شوي حقوقي نورمونه دي، ده د پښتونولي حقوقي نورمونه د نړيوالو حقوقو نورمونو سره برابر ګڼلي دي. ښاغلي څيړونکی لاندې حقوقي نورمونه د يو شمير مهمو ځانګړو حقوقي دعووې، شخړو او کړکيچونه، چې د پښتونولي د حقوقي نورمونو څخه په کې استفاده شوي ده، د حقوقپوهني په رڼا کې ښه ژور تحليل کړي او څيړلي دي .

ښاغلي ويلی ستيول Steul د پښتونولي حقوقي نورمونو په ډير شمير حقوقي دعووې کې له نژدې څارلي دي. ښاغلي څيړنوال د پښتونولی حقوقي نورمونه د حقوقي زاويه له اړخه د کتنو، تحليلونو او څيړنو څخه ورسته په پنځه کټګورې کې ويشلي دي. ده د پښتنو د ډيرو مهمو حقوقي نورمونو ماتول يا د پښتونولي په حقوقي نورمونو باندې تيرې د نړيوالو حقوقي نورمونو سره پرتله کړي دي او په لاندې ډول ليکلي دي.

۱ . د يو انسان عمدي يا قصدي وژنه يا د يو انسان د وژني هڅه، که د هغه ګناه وي او يا هغه بې ګناه وي (۱)

۲ . يو انسان په قصدي توګه جسماً ټپي کول يا د يو چا د ژوبلو هڅه، په دې مانا، کله چې يو انسان ته په داومداره او يا لنډ مهاله توګه په خپل جسمي فعاليت کې محلوليت يا محدويت ورپيښ کړل شي. (۲)

۳ . د يو انسان د ناموس بې عزتي او يا د يو چا د ناموس بې عزته کولو هڅه، په دې مانا، که يو څوک يو بد يا ناوړه عمل تر سره کړي او دغه کړنه د خبرو له لار په شفاهي ډ ل اثباتي اسناد شي، يا د يو شخص په ټولنيز مورالي ژوند کې شک رامنځ ته شي يا د قبيلي او توکمي ټولني ترمنځ درز،يا شک را پيداکاندي (۳)

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۴ . يو تر سره شوي ناوړه ناروا ناجايزه جنسي عمل يا د يوې ښځې يا د يو سړي په حق کې د جنسي اړيکو له لارې د بې عزته کولو هڅه وشي او يا تېرې وربانديې وشي. (۴)
۵ . د يو انسان پر شخصي ملکيت، ځمکه يا پر شخصي جايداد باندې بريد او يا د بريد هڅه وشي (۵ )
ښاغلي ستيول په خوست کې د خپلو څېړنو په ترڅ کې دې پايلې ته رسيږي، چې پښتونولي د پښتنو د عزت کوډکس، د پښتني حقوقو پوهنې بنسټ او د پښتني ټولنې د ټولنيزو اخلاقو بنسټ ايښودلي دی. دی ليکي، دا وضح خبره ده،چې د پښتونولي حقوقي پوهه په ټولنيزو حقوقي موراليې ايډيالونو باندې څرخيږي. څېړنوال ليکي په ډېر خواشينۍ سره پښتانه افغانان او پښتنه ټولنه تر اوسه په دې نه ده توانيدلي، چې په پښتنه ټولنه کې يو باثباته، دايمي، منظم ، تنظيم او ليکل شوي حقوقي افغاني اسلامي رسمي سيستم را منځ ته کړي، په کوم کې چې د پښتنونولي حقوقي نورمونه راټول شوي وي او د پښتونولي حقوقي سيستم ته په دولتي کچه رسماً وده، ټينګښت او اعتبار ورکړل شي.
پښتانه پښتونولي د يو حقوقي او قانوني بنسټ په توګه پيژني. جرګه د افعانانو د ځانګړو حقوقي چارو لپاره يو ه مهمه موتبره مرجع او بنسټ دی. پښتونولي يو حقوقي سيستم دي، چې خپله په خپلو پښو ولاړ دی او پښتونولي په خپله له ځانه سره مرسته کوي. کله چې يوه دعوه رامنځ ته شي، جرګه رابلل کيږي. سيمه ييزه جرګه کوم منظم تنظيم شوي دايمي اداري تشکيلات نه لري. جرګه په ځانګړي حالت کې، يوه دعوه يا د پښتونولي قانون، د اصولو، د نورم ماتولو او د تيرې په حالت او قضيايو کې رابلل کيږي. جرګه کوم قانون نه پلي کوي، بلکې جرګه يا مرکچيان د دعوه دواړو غاړو ترمنځ د خبرو اترو له لارې د منځګړيتوب يوه با اعتباره موتبره مرجع ګرځي.
جرګه د حقوقي محکمه له حالت سره مطابقت لري، اروپايي حقوقپوهان، څارونکي او څېړونکي په دې اند دي، چې د جرګې بهير د محکمې له جريان او بهير سره ډېر مطابقت لري.دوی وايي، محکمې ته د جرګې ورتووالي د جرګې په ناسته، د ول، بهير او اجرااتو کې ليدل کيږي او جرګه بهير تر ډيره بريده د يو حقوقي مرجع په حيث د نړۍ او اروپا يي عدلي او قضايي اساساتو تصوراتو سره سمون خوري. د جرګې دنده د پيښې په اړه رښتيا ومونډل دي، تر څو په قضيه کې مجرم ،ګناهکار، ملامت، ګرم او يا پړه غاړه مالوم شي. کله نا کله د ګناهکار او بېګناه سړي د مالومولو او ثبوت لپاره د جرګې په بهير کې د مرکچيان لخوا يوې او يا بلې غاړې ته په قران کريم قسم ورکول کيږي. جرګو او دعووې کې د قسم ورکولو دود يو مشرع توکې دی. ځکه پښتانه په خپلو ديني مذهبي اسلامي عقيدتي چوکاټ او حقوقي فلسفي مفکورکې په دې فکر او باور دي، چې که څوک په دوروغو لوړه کوي يا قسم خوري، دی به د الله (ج) د قهر سره خامخا مخامخ کيږي. که څوک په دورواغو قسم خوري، دی د مرګ سزا سره هم مخامخ کيداي شي .
دغه ډول جرګې، مرکې په تيره بيا په قومي سيمه ييزو لانجو، شخړو او دعووې کې راغوښتل کيږي. د شخړې موضوع اکثراً د ملکيت، مځکې ،ځنګلونو ،لرګيو او داسې نورو ګټه اخيستوونکي شيانو په اړوند وي.
د پيړيو پيړيو را هيسې د درست پښتون ولس او د پښتني ټولنې سياسي، ټولنيز فورم او توکمې جوړښت پرته له مرکزيته، دولتي چوکاټه او يا د يوې مرکزي سر مشريز ه جرګې له خوا ايښودل شوي دی. له همدې امله پښتني ټولنه کې دغه خورا مهمې حقوقي چارې د سيمه ييزو جرګو د مشرانو په لاس ورکړل شوي دي.
د جرګې د رابللو شرط دا وی، چې د جرګې د راغونډ يدو څخه مخکې د پښتونولي د اصولو سره سم چا بدل نه وي اخيستي او دواړه غاړې په خوښه او غوښتنه د شخړې هوارې د جرګو له لارې وي.
پښتونولي د خپلو حقوقي دعووې د بهير د ليکلو لپاره لاسوندونه او زيرمتونونه يا ارشيفونه نه لري، چې مرکچيان د اړتيا په صورت کې هغې زيرمتونونو ته مراجعه وکړي. جرګه وال يواځې په شفايي دول د پښتني ټولنې حقوقي نورمونه او ټولنيز ارزښتونه ته پام کوي او وده ورکوي .

د دريمي برخي پای

اخيځليکونه :

*1 Steul, Willi: Paschtunwali. Ein Ehrenkodex und seine rechtliche Relevanz. Franz Steiner Verlag: Wiesbaden, 1981: 137*


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

*2 ibid.: 141. ,,Frauen" und ,,Land" gehören beim Paschtunen zum namus. Namus beinhaltet u.a. ,,Ehre, Ruf [und] Würde" des männlichen Paschtunen. (Janata, A. und Hassas, R.: Ghairatman - Der gute Pashtune. Exkurs über die Grundlagen des Paschtunwali. In: Afghanistan Journal, 3, Graz: 1975: 83-97. zitiert in Steul: 140.)*

*3 vgl. Steul: 141.*

*4 vgl. Steul: 143-147.*

*5 ibid.: 152.*